# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ ۲۱مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۱۲مه | ۷۴۸مه گڼه


## ملگري ملتونه:
# د جگړو، کرونا او وچکالۍ له کبله د میلیونو افغانانو ژوند له جدي گواښ سره مخ دی



۳

## د روان بشري ناورین پر وړاندې څه کېدلی شي؟

۲ مخ

## آگاهان امور اقتصادی: کرونا، ضربهٔ محکم به اقتصاد مردم و کشور وارد کرده است

۲ مخ

## عرب نیوز: امریکا افغان خاوره یوازې د خپلو سیالانو د وېرولو لپاره کاروله

عرب نیوز په یوه تازه مقاله کې د امریکا د شل کلن ماموریت په اړه لیکي، چې شل کاله وړاندې په نړیواله کچه له خپلو سیالانو سره د امریکا د سیالۍ بڼه بل ډول وه، خو د ټکنالوژۍ په پرمختگ او د سیالۍ له نوو لارو سره امریکا پر دې پوه شوه چې په افغانستان کې یې نظامي حضور بې گټې دی.

عرب نیوز لیکي، امریکا په اصل کې د روسیې او چین په څېر د خپلو نړیوالو سیالانو د گواښلو لپاره په افغانستان کې حضور درلود او غوښتل یې سیمه له نږدې وڅاري، خو اوس چې د څارلو لارې چارې بدلې شوې، چینایي او روسي پوځ پیاوړی شوی، نو د امریکا امنیتي او استخباراتي ادارو هم د خپلو جگړو د بدلولو پرېکړه وکړه چې په پایله کې یې په افغانستان کې حضور ورته بې گټې ښکاره شو. په مطلب کې وړاندې راځي چې امریکا نه افغانستان ته امنیت راوست، نه یې د دغه هېواد په جوړولو کې اغېزناک کار وکړ او دغه هېواد یې په جگړه کې ښکېل پرېښود.

عرب نیوز داسې مهال دغه څرگندونې کوي، چې امریکا او نړیوالې ټولنې په افغانستان کې له نږدې شل کلن پوځي حضور وروسته روان کال پرېکړه وکړه چې په دغه هېواد به خپل پوځي حضور پای ته رسوي، خو په بشري او نورو برخو به له یاد هېواد سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

## د بشري حقونو د څار سازمان: ښکېل لوري ښايي د غچ اخیستنې لپاره د عامو افغانانو وژنو ته مخه کړي



۲ مخ

## کاروبار

۴ مخ

### توشیبا

توشیبا د الکترونیکي وسایلو د جوړولو تر ټولو لویه او په نړۍ کې وتلې کمپنۍ ده، چې په ۳۰ هیوادونو کې ۵۲۰ کارځایونه او ۲۱۰ زره کارکوونکي لري.





## کرنې وزارت: په خوست کې پر ۸۱ جریبه ځمکې متراکم بڼونه جوړ شوي



کرنې وزارت چې د بېوالۍ ځنځیري ارزښت د ودې سکټوري پروژې له لارې یې روان کال د خوست په مرکز او د دغه ولایت په تڼیو، گربز، اسماعیل خېل او مندوزیو ولسوالیو کې په ۸۱ جریبه ځمکه کې د ډول ډول مېوو ۴۵ متراکم بڼونه جوړ کړي دي.

د سرچینې په خبره، یاد ۸۱ جریبه بڼونه د دغه ولایت ۴۵ تنو بڼوالو ته جوړ شوي، چې ۱۳ جریبه یې ناک، ۷ جریبه یې الوچې، ۲۵ جریبه یې لیمو او ۳۶ جریبه د مالټې متراکم بڼونه پکې شامل دي. د یاد وزارت د چارواکو په څېر، دا بڼونه په مسلکي ډول رغول شوي او له هغو بڼونو سره، چې په دودیزه بڼه رغول شوي، ډېر توپیرونه لري.

د یادونې ده متراکم بڼونه نوي او عصري بڼونه دي، چې له دودیزو بڼونو سره ډېر توپیر لري، چې په لږه سیمه کې ډېرې ونې کېنول کېږي او له لږې ساحې څخه ډېر حاصل لاسته راځي.

## نزدیک به ۳هزار خانواده درپی جنگ‌ها در هرات و بادغیس بیجا شده‌اند



در جریان جنگ‌های چند روز پسین در ولایت‌های هرات و بادغیس، نزدیک به سه‌هزار خانواده مجبور به ترک خانه‌های شان شده‌اند. بربنیاد آمارهای ریاست امور مهاجران و برگشت‌کننده‌گان هرات، ۲۵۰۰خانواده از ولسوالی‌های هرات و ۳۰۰خانواده از شهر قلعهٔ نو ولایت بادغیس به شهر هرات پناه آورده‌اند.

مبین قادری، رئیس امور مهاجران و برگشت‌کننده‌گان هرات بیان داشت: «دو هزار و ۴۳۰ خانواده که از ولسوالی‌های مختلف هرات استند به‌خاطر جنگ بیجا شده‌اند و به شهر هرات آمده‌اند.»

آواره‌گان جنگ می گویند که تمام دار و ندار شان را رها کرده‌اند و در این شب و روزها در فضای باز و زیر خیمه‌ها در اطراف شهر هرات زنده‌گی می کنند.

عبدالله با پانزده عضو خانواده‌اش از شهر قلعه نو به هرات آواره شده‌است: «ما سه خانواده از شهر قلعه نو به خانه‌های اقوام خود به هرات آمده‌ایم. در آنجا وضعیت بسیار خراب بود و خودرا از انجا بیرون کردیم.»

عبدالقدوس، آوارهٔ دیگر جنگ نیز افزود: «وضعیت در شهر قلعه نو بسیار وخیم بود و هیچ کس نمی فهمد که چکار باید بکند. دست کودکان خودرا گرفتیم و به هرات آمدیم.»

در روزهای پسین با اوج گرفتن نبردها و افتادن پیهم ولسوالی‌های حوزه غرب بدست طالبان، هزاران غیرنظامی از ترس جنگ و خشونت‌ها از خانه‌های شان فرار کرده‌اند و به شهر هرات آواره شده‌اند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

کابل درېیمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

Aksos Book Store

www.aksosbookstore.af

aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د روان بشري ناورین پر وړاندې څه کېدلی شي؟

روانې پرله پسې جګړې، کرونا او وچکالۍ افغانستان له بشري ناورین سره مخ کړی دی. ملګري ملتونه وايي چې په روان کال کې تر اتلسو میلیونو زیات افغانان بشر دوستانه مرستو ته اړتیا لري. ویل کېږي چې د جګړو شدت به دا کچه لا لوړه کړي. په کابل کې د ملګرو ملتونو استازولي وايي چې دوی له دغو افغانانو سره د مرستې لپاره ۱۳ سوه میلیونو ډالرو مرستو ته اړتیا لري، ځکه چې له افغانستان سره د بشري مرستو صندوق له ۹۵۳ میلیونه ډالرو بودجوي کسر سره مخ دی. په لرې پرتو سیمو کې پراته وګړي او ماشومان تر نورو ډېر له دې بحران سره مخ دي. حکومتي چارواکي هم دا ستونزه مني او پر نړیوالو ټولنې غږ کوي چې دا ۱۳ سوه میلیونه ډالره مرسته وکړي.

دا په تېرو شلو کلونو کې تر ټولو ناوړه حالت دی چې افغانستان ورسره مخ شوی او داسې ښکاري چې روانه وچکالي، کرونا او زیاتېدونکې جګړه به دا ستونزه لا پسې براخه کړي. په روان کال کې جګړو هم ډېر خلک له خپلو کورونو او مېنو بې ځایه کړي او ویل کېږي چې د تېرو دوو میاشتو جګړو او ولسوالیو سقوط د بې ځایه شوو شمېر نور هم زیات کړی دی. پر ښارونو بریدونه او هلته د جګړو وېره به ستونزه لا پسې پراخه کړي. د جګړې دا ګواښ به په ښارونو کې پر پانګونې او کاروبار ډېر منفي اغېز وکړي. همدا اوس ډېر افغانان له دغو ګواښونو د وېرې له امله افغانستان پرېږدي. په دوی کې لویه برخه څه ناڅه شتمن کسان دي چې نه یوازې خپله ستونزه یې حل کولی شوای، بلکې دلته یې ژوند او کاروبار داسې و چې نورو افغانانو ته یې هم د کار زمینه برابره کړې وه چې د دوی په وتلو سره به بې کاري لا زیاته شي او دا چاره مخامخ د غربت له زیاتوالي سره تړلې ده.

ناکاره او مفسد دولت، د طالبانو له خوا سختو بریدونو او جګړو او پکې د کرونا په شان یو بل آفت دا ستونزې زیاتې کړي او داسې نه ښکاري چې کوم مثبت بدلون به پکې راشي. په حکومت کې د فساد له امله آن د امریکا ولسمشر هم ویلي چې نړیوال مرستو ته زړه نه ښه کوي، نو ځکه له نړیوالو هم ډېره هیله نه شي کېدلی، خو بیا هم هیله ده چې بهرني مرستندویان له سیاسي تړاوونه پرته د افغانستان له خلکو سره خپلو بشري مرستو ته دوام ورکړي، څو ددغه بشري ناورین د پراخېدو مخه ونیول شي.

که حالت همداسې وي او که حکومت او طالبان جګړو ته همداسې دوام ورکړي، نو نه یوازې دا چې دا بشري ناورین به وي، بلکې پراخ به شي؛ افغانان به لا زیات غریب شي، لوږه به زیاته شي، د بې ځایه شوو شمېر به زیات شي، ډېر خلک به هېواد پرېږدي او ځینې به یو ځل بیا په ګاونډیو هېوادونو کې د مهاجرت له ذلت څخه ډک ژوند ته اړ شي. له همدې امله دواړو اړخونو ته پکار ده چې نور پر دې ولس رحم وکړي، د سولې خبرې جدي پیل کړي، خنډونه لرې کړي او ژر یوې پرېکړې ته ورسېږي. له شک پرته چې سوله تر بل هر لامل زیات د روان او زیاتېدونکي بشري ناورین په مخنیوي کې رول لوبولی شي.

# آگاهان امور اقتصادی: کرونا، ضربۀ محکم به اقتصاد مردم و کشور وارد کرده است

عزیزالله همدرد

شیوع ویروس کرونا، اکثر کشورهای جهان را متضرر ساخت، اما افغانستان که بیشتر متکی به کمک جامعه جهانی می باشد، پس از شیوع این ویروس و اعلان قرنطین در سال گذشته و اعلان برخی محدودیت ها درسال روان، از نگاه اقتصادی بیشتر متضرر گردید، به آمار بیکاران افزوده شد و برصادرات و واردات کشور نیز صدمه وارد گردید.

آگاهان امور اقتصادی و برخی مقام‌ها نیز می گویند که ویروس کرونا، ضربه محکم به اقتصاد مردم و کشور وارد کرد.

به اساس آمار ارایه شده اداره احصائیه و معلومات، در حال حاضر چهل و هفت اعشاریه سه درصد جمعیت کشور، زیر خط فقر قرار دارند، سی و شش درصد مردم مصئونیت غذایی ندارند و بیش از دو میلیون تن بیکار می باشند.

صادرات افغانستان در بیش از دو سال اخیر، کاهش یافته است

به اساس سالنامه احصائیوی تجارت که از سوی اداره احصائیه و معلومات منتشر شده، رقم صادرات افغانستان در سال ۱۳۹۹ نسبت به سال ۱۳۹۸ بیش از ده درصد و در ربع اول سال ۱۴۰۰ نسبت به زمان مشابه سال پار ۱،۷ در صد کاهش را نشان میدهد.

در سالنامه احصائیه تجارت که از سوی اداره احصائیه مرکزی به نشر رسیده؛ رقم صادرات افغانستان در سال ۱۳۹۹ حدود ۷۷۶،۷ میلیون دالر بود، که این رقم در سال ۱۳۹۸ به حدود ۸۶۳،۸ میلیون دالر امریکایی رسیده بود.

منبع نوشته است، مقایسه آمار این دو سال نشان می دهد که میزان صادرات در سال ۱۳۹۹ نسبت به سال ۱۳۹۸ بیش از ده درصد کاهش یافته بود.

همچنان در سالنامه احصائیوی تجارت در ربع اول سال مالی ۱۴۰۰، صادرات اجناس ثبت شده رسمی حدود ۲۰۰،۲ میلیون دالر بود؛ اما در ربع اول سال ۱۳۹۹ به حدود ۲۰۳،٦ میلیون دالر رسیده بود.

احصائیه مرکزی گفته است که میزان صادرات در ربع اول سال روان، نسبت به زمان مشابه سال پار، ۱،۷ درصد کاهش را نشان میدهد.

واردات در ربع اول سال روان مالی، نسبت به زمان مشابه سال قبل۲،٦ درصد افزایش یافته است

اداره احصائیه و معلومات، می نویسد که واردات محصولی اموال ثبت شده رسمی در سال ۱۳۹۹، حدود ٦۵۳۷،٦ میلیون دالر بود؛ اما درسال ۱۳۹۸ این رقم به ٦۷۷٦،۸ میلیون دالر رسیده بود که در سال ۱۳۹۹، واردات در مقایسه سال ۱۳۹۸، به میزان ۳،۵ فیصد کاهش یافته است.

واردات محصولی اموال ثبت شده رسمی در ربع اول سال ۱۴۰۰، به ۱۵۷۰،۲ میلیون دالر بالغ می گردد؛ اما در ربع اول سال ۱۳۹۹، به ۱۵۳۰،۰ میلیون دالر می رسید.

منبع می نویسد که در ربع اول سال ۱۴۰، واردات درمقایسه ربع اول سال ۱۳۹۹ به میزان ۲،٦ فیصد افزایش یافته است.

قیس محمدی استاد پوهنځی اقتصاد پوهنتون خصوصی کاردان و یکی از کارشناسان اقتصادی به پژواک گفت که تاثیرات کوید-۱۹، نه تنها در افغانستان بلکه در دنیا به سطح هر خانواده محسوس شده است و برخی افراد، موقت و برخی دیگر به مدت طویل از وظیفۀ شان سبکدوش شده اند.

وی افزود، در موج اول کرونا، شماری ادارات، سازمان‌ها و شرکت‌ها قدرت تادیه معاش را به کارمندان شان نداشتند و به همین دلیل اکثریت کارمندان خودرا برکنار کردند و از این رو، صدمه بزرگ به فقرا و طبقه پائین جامعه رسید.

افزون بر این، وی گفت که هنوزهم برخی آن‌ها با بحران اقتصادی مواجه بوده و کارمندان شان بیکار اند.

موصوف با اشاره به زیر خط فقر قرار داشتن کتله بزرگ مردم کشور، گفت که در گذشته ممکن کمک دولت تاحدی درد مردم را مداوا کرده باشد؛ اما با آن‌هم کوید-۱۹ ضربه بزرگ اقتصادی را به مردم وارد کرده و اکنون هم مردم در وضعیت بد اقتصادی قرار دارند.

محمدی افزود که در قسمت صنایع، خدمات تحصیلات، صحت، انترنت، هوتل‌داری، پارک‌ها و مانند آن نیز متشبثین سخت متضرر و بیش‌تر کارمندان نهادهای متذکره، بیکار و ضربه اقتصادی دیده اند.

این آگاه اقتصادی، با اشاره به افزایش سطح بیکاری و کاهش سطح مالیات گفت که به همین دلیل حکومت، اکنون پول کافی برای مصرف سال ۱۴۰۰ خود ندارد.

قابل ذکر است که دولت افغانستان، اخیراً به دلیل کسر در بودجه سال‌روان مالی، ۱۷،۴ میلیارد افغانی از صندوق وجهی بین‌المللی پول، قرضه اخذ کرده است. پیش از این نیز ۱،۸ میلیارد دالر امریکایی قرضه از کشورها و نهادهای بین‌المللی دریافت کرده بود.

محمدی تصریح کرد: «بصورت کُل تولیدات داخلی کاهش یافت، فقر و بیکاری افزایش پیدا کرده است و وضعیت اقتصادی کشور از وضعیت نه چندان خوب، به بدترین وضعیت آمده است، که می‌توان آن را رکود اقتصادی نامید.»

وی در همچو شرایط، وظیفه حکومت را مسئول اعاشه و اباطه فقرا، رساندن خدمات صحی، رساندن معاش حداقل و رساندن غذا به مردم عنوان کرده و گفت که از حقیقت چشم‌پوشی نشود، حکومت در موج اول کرونا تاحدی مردم را کمک کرد؛ اما قلدرهای فسادپیشه، بر گلوی مردم پا گذاشتند و کمک دولت به فقرا را حیف و میل کردند.

این کارشناس اقتصادی افزود که شاروالی در زمان قرنطین و توزیع کمک به مردم، نشان داد که چقدر بی‌کفایت است. همچنان وی گفت که وزارت صحت عامه نیز بودجه را بی‌جا به مصرف رساند.

موصوف گفت کسانی‌که در حکومت کار می‌کنند، خیلی ظالم بودند و نان مردم را دزدی کردند، باید بجای توزیع نان، پول نقد داده میشد و یا کار ایجاد می کرد.

به گفته وی، در چنین شرایط باید مالیات را معاف و حمایت از کار و بار صورت می‌گرفت؛ اما با تاسف که چنین نشد.

او تصریح کرد، در همچو شرایط باید تاجران بزرگ مکلف شوند تا به شرکت‌های کوچک کمک کنند، قسمی که در امریکا شد.

وی با ذکر این‌که حکومت در تطبیق پالیسی‌ها ناکاره ثابت شد و کرونا پرده از فساد حکومت برداشت، یعنی اراکین حکومت به مردم رحم نکردند، ثبوت‌های رسانه ای وجود دارد؛ اما تا حال تعقیب و یا رسیدگی نشده است.

محمدی گفت که نه به شرکت‌های کوچک کمک کرد، نه مالیات را معاف کرد و نه هم پول برق را، چرخه اقتصاد را فعال نگه نداشت، در حالیکه در سایر کشورها این کار شد و حتا مردم پول خود را با یکدیگر خود تقسیم کردند.

اما با آن‌هم کمک به فقرا و افراد بی‌بضاعت در موج اول کرونا، کار نیک بود و این اقدام قابل تقدیر است و باید به فقرا، تجارت‌های کوچک و متوسط کمک شود.

در همین حال، خان جان الکوزی عضو هیات مدیره اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان و معاون تجارتی و سرمایه گذاری فدراسیون اتاق‌ها به پژواک گفت که کرونا تلفات جدی جانی، اثرات زیان‌بار در بخش های تولیدی، تجاری، اقتصادی و غیره را در جهان و افغانستان برجا گذاشته است.

وی با ذکر این‌که افغانستان یک کشور جنگ زده، فقیر، وارداتی، محاط به خشکه و نیازمند کمک‌های بین المللی است، افزود که به همین دلیل، تاثیرات منفی کرونا بر اقتصاد دولت و مردم کشور بیش‌تر از سایر کشورها بوده است.

موصوف گفت که با شیوع ویروس کرونا، فابریکه‌ها مسدود شد، صادرات کاهش و واردات افزایش یافت و افغانستان از این ناحیه میلیون‌ها دالر خساره مند گردیده است.

الکوزی، با بیان این‌که هم اکنون نیز با گذشت هر روز اقتصاد کشور و مردم خراب شده و می‌شود، گفت که در کنار پاندمی کرونا، درگیری‌ها در ولایات، تصرف بندرها توسط طالبان و منهدم کردن پایه‌های برق نیز از مشکلات دیگری است که بالای اقتصاد مردم و دولت تاثیر منفی برجا گذاشته است.

پس از شیوع ویروس کرونا شهروندان که بیکار شده اند

نیلوفر باشنده حصه سوم خیرخانه شهر کابل و معلم یکی از مکاتب خصوصی گفت: «پس از شیوع ویروس کرونا همه مردم بسیار زیاد متضرر شدند به شمول خانواده خودم، در یک مکتب خصوصی معلم استم، وقتی که قرنطین اعلان میشه، معاشات ما اجرا نمی شود، پارسال وامسال کلان ضربه خوردیم.»

در همین حال، حامد باشنده چهار قلعه وزیرآباد کابل که در یکی از موسسات غیر حکومتی به صفت محافظ ایفای وظیفه می کرد، به پژواک گفت: «بعد از شیوع ویروس کرونا در کشور، موسسه ما که از فعالیت بازماند و وقتی که قرنطین خلاص شد نصف کارمندان ما به کار جذب شدند و نصف دیگر را جواب دادند، بیکار استم و وضعیت اقتصادی ما بسیار خراب است.»

وی که یگانه نان آور خانواده ۴ نفره اش می باشد و در خانه کرایی زندگی می کند گفت: «کرونا زندگی ما را خراب کرد، کرونا اقتصاد اکثریت را به صفر رساند.»

مقام‌ها نیز تایید کردند که شیوع ویروس کرونا، اثرات بدی بر اقتصاد مردم و مملکت گذاشته است.

نوریه نزهت سخنگوی وزارت اقتصاد گفت که شیوع بیماری کرونا در افغانستان، در دو مقیاس، خرد و بزرگ، تاثیرات منفی برجا گذاشته و می گذارد.

وی افزود که در مقیاس خرد؛ خانواده ها، افراد، تصدی‌ها و شرکت‌ها را؛ و در مقیاس کلان هم درآمد دولت، تجارت و بیلانس تجاری را با چالش مواجه کرده است.

او علاوه کرد: «تعدادی خانواده ها را به سطح افغانستان داریم که هزینه‌های وقایه، تشخیص و علاج بیماری کرونا برای آن‌ها دشوار می‌شود و به علت مشکلات اقتصادی، نمی‌توانند اقدامات پیش‌گیرانه و جلوگیری از ویروس داشته باشند.»

افزون بر این، نزهت گفت که اقدامات پیش‌گیرانه ای که بر جلوگیری از ویروس شامل تعطیلات، قرنطین، توقف‌کار و فعالیت‌های عادی، درآمد افراد و خانواده ها را متاثر می کند و از طرف دیگر، بالای شرکت‌های تولیدی و تصدی‌ها هم تاثیراتش را برجا می‌گذارد.

به گفته وی، در جریان گسترش بیماری کرونا، ساعات کاری در سطح شرکت‌ها کاهش پیدا کرد و در میزان محصولات نیز تفاوت به وجود آمد. همچنان تولید مواد خام در سطح افغانستان و بازارهای جهانی نیز متاثر شد.

او تصریح کرد که در کنار موارد یادشده، درآمد دولت افغانستان از قبیل مالیه، تکتانه، تعرفه، کرایه، فیس خدمات و غیره را نیز تحت تاثیر قرار می‌دهد.

سخنگوی وزارت اقتصاد گفت که حکومت افغانستان بخاطر جلوگیری از آسیب‌هایی که در جریان ویروس کرونا قرار است وارد شود، بسته‌های حمایتی شامل توزیع نان خشک و دسترخوان ملی را داشته است.

وی افزود که توزیع بسته‌های متذکره، توانسته در قسمت دسترسی مردم به مواد غذایی کمک کند و سکتور خصوصی نیز مورد حمایت حکومت افغانستان قرار گرفته است.

اما فواد احمدی سخنگوی وزارت صنعت و تجارت، گفت که آمار دقیق در مورد صادرات و واردات را اداره احصائیه و معلومات شریک می سازد؛ اما با فعال شدن دو خط آهن خواف-هرات و آقینه-اندخوی و روی دست گرفتن برخی تدابیر، آمار صادرات افغانستان نسبتاً بهتر شده است.

موصوف افزود که به تازه گی حدود ٦۰ سکتور در کشور به خودکفایی و نیمه خودکفایی رسیده است و به همین دلیل، در حال حاضر جلو صد درصدی واردات اقلامی که در کشور تولید می شوند، گرفته شده است.

عبدالفتاح عشرت احمدزی سخنگوی وزارت کار و امور اجتماعی، به پژواک گفت که در حال حاضر بیش از دو میلیون افراد واجد شرایط کار بیکار اند.

موصوف افزود که پس از شیوع ویروس کرونا در کشور، به رقم بیکاران افزوده شد؛ زیرا با اعلان قرنطین در سال‌پار برخی موسسات، مکاتب، موسسات تحصیلات عالی و هوتل ها کارمندان شان را از کار منفک کردند و در سال‌روان نیز برخی‌ها بیکار شدند.

به گفتۀ احمدی، با شیوع بیماری کرونا در جهان، به یک‌بارگی تمام مرزها از جمله هوایی، زمینی و قطار بر روی کشورها مسدود شد؛ اما امسال افغانستان و سایر کشورها تدابیر بهتری را روی دست گرفته و به همین منظور، راه‌های تجاری باز است، واردات و صادرات عملاً جریان دارد.

## د بشري حقونو د څار سازمان: ښکېل لوري ښايي د غچ اخيستنې لپاره د عامو افغانانو وژنو ته مخه کړي



د بشري حقونو د څار نړيوال سازمان وايي، په افغان جګړه کې ښکېل لوري ښايي د غچ اخيستنې له مخې د خلکو وژنو ته مخه کړي. دغه سازمان د غچ اخيستنې په نيت د وژنو په اړه داسې مهال اندېښنه ښيي چې په افغانستان کې له مې مياشتې راهيسې د جګړو شدت او د ولسواليو لاس په لاس کېدل زيات شوي دي.

د دغه سازمان د اسيا برخې مرستيالې پاترېشيا ګاسمن ويلي، پخوا هم دغه ډول وژنې او نورې سرغړونې د طالبانو او هغو ملېشه ډلو لهخوا شوي، چې له يو بل څخه يې سيمې لاندې کړې دي.

ګاسمن زياتوي: «له بده مرغه د افغانستان په جګړه کې د غچ اخيستنې لپاره د وژنو، نورو تجاوزونو او د سيمو د جبري تخليې اوږده سابقه شته. پخوا په ځينو مواردو کې دغه اعمال د طالبانو لهخوا پر ځينو سيمو د ولکې تر ټينګولو وروسته شوي، په نورو مواردو کې دا کار د هغو ملېشهوو لهخوا شوی، چې له طالبانو يې ځينې سيمې بېرته نيولي، دوی هلته ملکي کسان مجازات کړي دي. دا ډول زورزياتی او د غچ اخيستنې اعمال ډېر خطرناک دي چې ځينې مهال د ډلهييزو ظالمانه کړنو سبب کېږي. اوس چې په افغانستان کې ولسوالۍ لاس په لاس کېږي، نړيواله ټولنه دې ډېره متوجې وي.»

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې په هرات، نورستان، بغلان، کندز، فارياب، سمنګان، بلخ، جوزجان، تخار، پروان، ننګرهار، خوست، پکتيکا، پکتيا، هلمند، ارزګان، زابل، غور او نورو ولايتونو کې د پخوانيو جهادي قومندانانو يا هم نورو کسانو تر مشرۍ لاندې د ولسي پاڅونوالو په نوم سلګونو کسانو د وسلهوال کېدو راپورونه ورکړل شوي دي. خو ملي دفاع وزارت د وسلهوالو طالبانو پر وړاندې په مبارزه کې د پاڅونوالو رول مهم بولي. د ياد وزارت مرستيال وياند فواد امان وايي: «نن سبا د افغانستان د امنيتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ لپاره د ولسي پاڅونوالو په چوکاټ کې ګڼو کسانو وسله اخيستې ده. دا هغه کسان دي چې له طالبانو کرکه لري او نه غواړي چې د طالبانو تور رژيم پر افغانستان بيا واکمن شي. د دوی هدف د خلکو خونديتوب، د امنيتي-دفاعي ځواکونو ملاتړ او د طالبانو نابودي ده. دوی د افغانستان له ملاتړ او دفاع، دغهراز د خلکو د ځان او مال له ساتنې پرته بل هدف نهلري.»

حکومت بيا طالبان تورنوي چې د ځينو سيمو او ولسواليو د نيولو پر مهال يې ملکيتونو ته هم زيان اړولی او د خلکو کورونه يې د سپر په توګه کارولي دي. د ولسمشر د ستراتېژيکو او عامه اړيکو د دفتر مشر وحيد عمر ويلي: «طالب فقط پر سوځول شوې ولسوالۍ، پر رنګ شوي مکتب او د تهديد او تخويف له لارې پر بېوزلو حاکميت لري.»

## ملګري ملتونه: د جګړو، کرونا او وچکالۍ له کبله د ميليونو افغانانو ژوند له جدي ګواښ سره مخ دی



ملګري ملتونه وايي، په افغانستان کې د روانو جګړو، کرونا وبا او وچکالۍ له کبله د ميليونو افغانانو ژوند له جدي ګواښ سره مخ دی. په افغانستان کې د ياد سازمان مرستيال رامز اکبروف په کابل کې د يوې خبري غونډې پرمهال وويل، که څه هم دغه سازمان روان کال له ۳.۷ ميليونو افغانانو سره بشري مرستې کړې، خو په خبره يې، لا هم د دغه هېواد درييمه برخه نفوس بېړنيو بشري مرستو ته اړتيا لري. د نوموړي په خبره: «د اوسنې بېړني حالت او وچکالۍ له کبله د افغانستان نږدې دريمه برخه وګړي له بشري ناورين سره مخ دي، د دغه هېواد نږدې نيمايي ماشومان له لوږې او خوارځواکۍ سره لاس او ګرېوان دي، دا وضعيت دردوونکی دی، دوی بايد له دې حالته راويستل شي».

اکبروف دغه راز زياتوي چې افغانستان د اقليمي بدلون او وچکالۍ له ګواښوونکې څپې سره مخ دی او دې چارې د ډېريو افغانانو ژوند تريخ کړی دی. نوموړی د بشري مرستو پر کارکوونکو بريدونه د اندېښنې وړ بولي او زياتوي چې يوازې په روان کال کې په دغه هېواد کې د بشري مرستو ۲۵ کارکوونکي وژل شوي او ۶۰ نور ټپيان شوي دي. د هغه په خبره: «دا اسانه نه ده، يوازې په روان کال کې د بشري مرستو د رسونې پر مهال د بشري مرستو ۲۵ کارکوونکو خپل ژوند بايللی، ۶۰ نور ټپيان شوي، زه يو ځل بيا ټينګار کوم چې د بشري مرستو کارکوونکي بې طرفه دي، نو ټول اړخونه بايد د دوی د ژوند خونديتوب ته جدي پام وکړي.»

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه دفتر مرستيال د جګړې له کبله د زرګونو بې ځايه شويو کورنيو پر وضعيت هم اندېښنه وښوده او له ټولو مرستندويه بنسټونو څخه يې غوښتنه وکړه چې د دوی لاسنيوی وکړي.

په ورته مهال د ماليې وزارت سرپرست خالد پاينده هم په ياده غونډه کې خبرداری ورکړ چې په ټول هېواد کې د جګړو، وچکالۍ او کرونا وبا له کبله نږدې ۱۲ ميليونه کسان له ناوړه حالت سره مخ دي. پاينده دغه راز پر نړيوالې ټولنې غږ وکړ، که په روان وضعيت کې د افغانانو لاسنيوی ونه کړي، ښايي په هېواد به ستر بشري ناورين رامنځته شي. د پاينده په وينا: «د بشري مرستو لپاره چې د ملګرو ملتونو او د افغان حکومت له خوا کومه ګډه غوښتنه نن وشوه، بايد ټول ورته پاملرنه وکړي، ترڅو له يوه ستر انساني ناورين څخه مخنيوی وشي».

ملګري ملتونه داسې مهال له افغانستان سره د بشري مرستو پر دوام ټينګار کوي، چې دغه هېواد اوسمهال له سختې جګړې، شديدې وچکالۍ او د کرونا ويروس له وژونکې وبا سره لاس او ګرېوان او ميليونه وګړي يې جدي بشري مرستو ته اړتيا لري.

## اسټراليا: د ټولو سرتېرو په ايستلو سره مو په افغانستان کې پوځي ماموريت پای ته ورسېد



د اسټراليا دفاع وزير وايي، په افغانستان کې يې ۲۰ کلن جګړيز ماموريت پای ته رسولی دی. د اسټراليا د دفاع وزير پيټر ډوټن تېره ورځ وويل چې د افغانستان په شل کلنه جګړه کې يې پوځي ماموريت پای ته رسېدلی او په دې تېرو څو اونيو کې يې ټول سرتېري له دغه هېواده ايستلي دي.

اسټراليا د روان کال په اپرېل کې اعلان کړی و چې د امريکا د متحدو اياټلتونو له پرېکړې سره سم به په افغانستان کې خپل پاتې سرتېري تر سپټمبر مياشتې پورې وباسي. د ياد هېواد دفاع وزير سکای نيوز خبري شبکې ته ويلي چې پاتې ۸۰ تنه دفاعي پرسونل يې په وروستيو اونيو کې له افغانستان ووتل.

اسټراليا په تېرو شلو کلونو کې د طالبانو او نورو وسله والو ډلو پر ضد د امريکا او ناټو د ماموريت په چوکاټ کې افغانستان ته ۳۹ زره سرتېري استولي وو. دغه ماموريت ياد هېواد ته د ميلياردونو ډالرو په لګښت او ۴۱ سرتېرو په له لاسه ورکولو تمام شو. په ۲۰۰۹ز کال کې اسټراليا په افغانستان کې ۱۵۵۰سرتېري درلودل، که څه هم چې په ۲۰۱۳ز کال يې د خپلو محاربوي سرتېرو په ايستلو سره په افغانستان کې پوځي حضور راکم شو، خو جګړې دې هېواد ته مالي او ځاني تاوانونه ورسول او په هېواد کې دننه يې سياسي مخالفتونه رامنځ ته کړل.

څه موده وړاندې د اسټراليا د دفاع وزارت د پراخو پلټنو وروسته اعلان وکړ، چې ۱۹ پخواني پوځي منسوبين يې په افغانستان کې د ۳۹ بنديانو او ملکي افغانانو د وژنې له کبله محاکمه کېږي. دغه وژنې په ۲۳ ځانګړو پېښو کې د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۶ز کلونو ترمنځ شوي دي. د بشري حقونو ملاتړو ډلو او د اسټراليا د پخوانيو پوځيانو ډلو پر حکومت فشار راوړی، چې د هغو سرتېرو ترمنځ د ځان وژنې د لوړو پېښو په اړه رسمي پلټنې وکړي، چې په افغانستان کې يې ماموريت ترسره کړی دی.

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرېنکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

ما یو څه وخت د تورې تبې (محرقې) د ناروغانو په روغتون کې تېر کړ. دلته به داسې ناروغان وو چې سخته تبه به یې وه. ګډوډې به یې ویلې او مرګ حال به وو. یو کس چې مړ شو، ما به همدا منظره د څو څو تنو په مړینې همداسې په بې حسۍ لیدله. مړی به لا هماغسې تود و، زندانیان به یو یو ورتلل، چا به ترې پاتې شوي الوګان تروړل، بل به ویل چې د مړي لرګین بوټان ورته تر خپلو بوټانو ښه دي، ورسره به یې بدلول. بل به یې کورتۍ واخیسته او خوشاله به و چې یو متر ټوټه یې پیدا کړې ده... . ښه فکر ورته وکړئ!

ما ته دا هر څه عادي وو. کس به چې مړ شو، ما به نرس ته وویل چې مړی یوسي. هغه به له دواړو پښو ونیوه، په یوه نري دهلېز کې به یې کش کاوه، دواړو خواوو ته به چپرکټونه پراته وو چې د محرقې د پنځوسو ناروغانو لپاره وو. له دې ځایه به یې پر لوړو ژورو ځمکو تر دروازې پورې کش کاوه. موږ د خوړو له کمښته ځورېدو، نو بهر ته وتلیو دوو زینو به راته تلل ستونزه جوړوله. په زندان کې مو چې یو څو میاشتې تېرې کړې، بیا به پر دې زینو نه پورته کېدو. دا زینې شپږ اینچه لوړې وې؛ خو موږ به چې د دروازې دېوال ته لاس وانه چاوه او ځان به مو کش نه کړ، پرې پورته کېدای نه شوای. نرس چې مړی ایستلو، سترې سترې زینو ته نږدې شو، لومړی یې لاس واچاوه، ځان یې کش کړ، دروازې ته ورپورته شو، بیا یې مړی ورکش کړ، لومړی یې د مړي پښې جګې کړې، بیا ملا او ورپسې یې سر په ډېرو فریادونو او ډز و ډز پورته کړ. زما ځای بلاک ته مخامخ و، همدلته یوه وړه کړکۍ وه چې بهر ځمکه ترې ښکارېده. ما په یخو ګوتو کې د ښوروا تود کنډول نیولی و. ورو ورو مې ترې غوړپونه کول. په دې وخت کې مې کړکۍ ته وکتل. له دې ځایه یې چې لږ مخکې کوم مړی ایستلی و، ما ته یې په رڼو سترګو راکتل. دوه ساعته مخکې ما له همدې کس سره خبرې کولې، اوس لګیا یم له خپلې ښوروا ګوټونه کوم.

دغه بې حسي مې که له مسلکي پلوه راته په زړه پورې نه وای، نو اوس به مې هېره وه، ځکه هېڅ عاطفه راپکې نه وه.

بې حسي، بې عاطفه توب، احساسات کمېدل او د هر څه بې ارزښته ګڼل هغه نښې دي چې د زندانونو د رواني غبرګون په دویم پړاو کې راښکاره کېږي او بلاخره به یې دی د هر ساعت او هرې ورځې ځور او سپکاوي په مقابل کې کلکه تېره کاوه. په همدې بې حسۍ به زنداني ډېر زر له ځانه د خوندیتوب یو پوښ تاواوه.

وهل په ورو ورو کارونو کېدل، ځینې وخت به یې هېڅ دلیل هم نه و. مثلاً ډوډۍ به په زندان کې راکول کېده او موږ باید ټول ورته په یوه لیکه کې ولاړ وای. یوه ورځ په ما پسې لیکه کې یو کس لږ کوږ ولاړ، د لیکې دا کوږوالی د SS افسر خوښ نه شو. نه زه خبر وم چې شا ته څه روان دي او نه افسر خبر و چې څه کیسه ده؛ خو ما پر خپل سر دوه قوي ګوزارونه احساس کړل. یوازې دومره مې ولیدل چې په خوا کې مې یو ساتونکی ولاړ و او لرګی ورسره و. په داسې وخت کې انسان په ګوزار نه خوږېږي، بلکې اصلي درد د بې عدالتۍ او بې منطقۍ وي چې انسان ځوروي (دا کار چې څنګه له کوچنیانو سره کېږي، همداسې له لویانو سره هم کېږي.)

جالبه یې دا ده، د کوم ګوزار خاپ چې نه پاتې کېږي، دا په ځینو حالاتو کې تر هغه ګوزار ډېر ځوروونکی وي چې خاپ یې پاتې کېږي. یوه ورځ تېزه واوره ورېده او زه د ریل ګاډي په تم ځای کې ولاړ وم. سره له دې چې هوا خرابه وه، خو زموږ ډلې باید کار کړی وای. موږ لګیا وو، د پټلۍ پر نصبولو مو ځانونه سخت بوخت کړي وو، ځکه د ځان تود ساتلو یوازینۍ لاره کار و. یوازې د ساه سمولو لپاره څو شېبې پر خپله بېلچه تکیه شوم. په دې وخت کې له بده مرغه ساتونکی راغی او داسې یې وګڼله چې زه ګنې وخت ضایع کوم.
**دوام لري...**

# توشیـبا

**حشمت الله نوري**

توشیبا څو ملیتي جاپانی شرکت دی. مرکزي دفتر یې د جاپان په توکیو ښار کې دی. د ټکنالوژۍ، اطلاعاتو، اړیکو، برقي سیستم، صنعتي وسایلو، طبي سامان الاتو، دفتري وسایلو او دې ته ورته نور و برخو کې خدمات وړاندې کوي. توشیبا شرکت د اکترونیک د دوو کمپنیو له یو ځای کېدو رامنځته شوی دی.

د دغو دواړو شرکتونو وده په ګډه لا پراخه شوه او دغو دواړو جاپاني شرکتونو خپلو کارونو ته لا پراختیا ورکړه. لا ګړندي شول او د ټکنالوژۍ په عصر کې یې اغېزناک ګامونه پورته کړل. توشیبا شرکت په دې وخت کې د ډیجټلي محصولاتو د تولید په برخه کې ګام کېښود. دوی الکترونیکي وسایل تولیدول او د کمپیوټر تولید یې هم ورسره جوخت پیل کړ. په هغه وخت کې د نورو کورنیو محصولاتو تر څنګ، ځینې ځانګړي وسایل وو چې د توشیبا له کمپنۍ تولیدېدل او هغه وخت یې په جاپان کې ځانګړی شهرت درلود.

همدا اوس هم توشیبا له ډل، ایچ پي، ایسر او لنوو وروسته د نړۍ پنځم ستر شرکت دی، چې تر ټولو ښه کمپیوټرونه تولیدوي. دغه شرکت همدا رنګ په نړۍ کې څلورم شرکت دی چې د رسنیو د وسایلو د تولید په برخه کې کار کوي او همدارنګه د ارطباتي وسایلو تولید هم په دغه شرکت کې په لوړه پیمانه او ښه کیفیت دی.

په ۱۸۵۷ کال کې په جاپان کې د لومړي ځل لپاره د تلګراف د وسایلو د تولید کار پیل شو. په هغه وخت کې د دغو وسایلو د تولید د کار ځای نوم، تاناکا سیزو شو و، چې مانا یې د تاناکا د انجنیرۍ کارځای دی. بنسټګر یې هم تاناکا هیساشګ و، په هغه وخت کې نوموړي دوې اختراعګانې کړې وې، یوه نانځکه یې جوړه کړې وه چې هغه الکترونیکي وه او ډېری خلک یې د اوسني رباط لپاره بنسټ بولي او یو عجیب ساعت یې جوړ کړی و چې په هغه وخت کې خلکو ته په زړه پورې و.

په همدې وخت کې سیزاکو شو شرکت هم د سنګینو الکترونیکي وسایلو د تولید په برخه کې کار کاوه. وروسته په ۱۸۹۹ کال کې د شرکت نوم بدل شو، نوم یې ورته توکیو دنکي کېښود. دوی لا هم د الکترونیکي وسایلو د تولید په برخه کې کار کاوه. وروسته توکیو دنکي له تاناکا سره یو ځای شوه او په ځایي نوم توکیو شیبورا دنکي باندې مشهوره کمپنۍ یې جوړه کړه. دوی څکه سره یو ځای شول چې تګلارې او پلانونه یې سره ورته وو او غوښتل یې په یوه لوري ګام واخلي او په یو ځای کېدو نور هم سره پیاوړي شي.

دغه شرکت ډېر ژر د توشیبا په نامه مشهور شو، په ۱۹۷۸ کال کې یې اوسنی نوم توشیبا رسماً نوم شو او پر لوحو باندې یې همدا نوم ولیک. توکیو شیبورا دنکي شرکت په ۱۹۳۰ کال کې لومړنی یخچال او د کالیو مینځلو لومړنی ماشین اختراع کړ. یو کال وروسته یې لومړنی برقي جارو جوړ کړ. په ۱۹۴۲ کال کې لومړنی رادار هم د همدې شرکت له لوري جوړ او ګټه اخیستنې ته وسپارل شو. په ۱۹۵۵ کال کې یې نورې اختراعګانې هم وکړې. څلور کاله وروسته یې لومړنی ترانستوري ټلویزیون جوړ کړ او همدا راز یې لومړنی مایکرو برقي اجاق هم جوړ کړ.

په ۱۹۶۳ کال کې دې شرکت د هستوي برښنا د تولید لومړنی ستر او قوي توربین جوړ کړ، هغه توربین د ۱۲۵۰۰ کېلوواټه برښنا د تولید ضرفیت درلود. په ۱۹۷۸ کال کې یې د چاپ لپاره یو ځانګړی نوی ماشین جوړ کړ چې له مخکنیو سره یې ډېر توپیر درلود. دوی په همدې توګه په بېلو برخو کې کار کاوه، توربیونونه، د کور وسایل، الکترونیکي وسایل، لامپونه او دې ورته نور شیان یې تولیدول.

د ایم آر آی له نامه سره ښایي تاسې ډېر بلد وی، دا وسیله هم د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۲ کال کې توشیبا کمپنۍ جوړه کړې ده. دغه شرکت په ۱۹۸۵ کال کې خپل لومړنی لپټاپ هم جوړ کړی دی. توشیبا شرکت ډېر وخت کوښښ کاوه چې له نورو کمپنیو سره په ګډه ځینې وسایل تولید کړي. یو وخت یې له پاناسونیک سره همکاري پیل کړه، دا وخت دوی کوښښ کاوه چې د الکترونیکي وسایلو د حافظو د لوړولو په برخه کې هڅې وکړي. دوی د فلشونو پر حافظه کار وکړ او په ۲۰۰۵ کال کې د نړۍ لومړنی فلش چې ۵ جي بي حافظه یې لرله، د توشیبا له لوري جوړ شو. توشیبا داسې عادي کمپنۍ نه وه که یې پر اختراعاګانو خبرې وشي، ښایي تاسې هم ورته حیران شی. لومړني رنګه موبایل ته همدلته وده ورکړل شوه، لومړني رنګه ټلویزیون همدلته پراختیا پیدا کړه، د معلوماتو د ذخیره کولو لپاره ډیسک یا حافظه همدلته نړیوالو ته وړاندې شوه. توشیبا یو هڅانده او د الکترونیک په نړۍ کې یو پېژندل شوی نوم دی. خو په دې وروستیو کې یې فعالیتونه له نورو سره سیالي نه شي کولی. توشیبا شرکت د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د څېړنې او تحقیق ۳۹ مرکزونه لري، په دې مرکزونو کې تر ۴۱۸۰ کسانو پورې کار کوي. دغه شرکت اوس هم تر ۲۱۰ زره ډېر کار کوونکي لري. دغه کسان د توشیبا په څانګو کې د نړۍ په ۳۰۰ بېلو مرکزونو کې کار کوي.

همدارنګه توشیبا ۵۲۰ کارځایونه یا فابریکې لري، دا فابریکې د نړۍ په ۳۰ هېوادونو کې موقعیت لري، د اټومي انرژۍ د تولید په برخه کې هم کار کوي او په دې څانګه کې یې ۲۰ په کارپوه او روزل شوي کسان په دندو ګمارلي دي. دغه شرکت په جاپان کې د خپل امنیت لپاره ۴ زره کسان او د نړۍ په نورو برخو کې زر کسان ګومارلي دي.

توشیبا شرکت د کلني ۶۰،۸۰ میلیاردو پلور په درلودلو او د ۱،۱۷ میلیارده ډالرو خالصې ګټې په لرلو د نړۍ د ۵۰۰ غوره شرکتونو په کتار کې ۹۱ ځای لري. د دغه شرکت د پلور تر ټولو لویې سیمې دا دي: ۵۱ سلنه تولیدات یې په جاپان کې پلورل کېږي، ۲۰ سلنه په اسیا کې، ۱۵ سلنه په شمالي امریکا کې، ۱۲ سلنه په اروپا کې او ۲ سلنه د نړۍ په نورو برخو کې.

د توشیبا له بنسټګرانو یو هم تاناکا هیساشیګ دی، هغه په جاپان کې تر ټولو ستر مخترع دی. په ۱۷۹۹ کال کې پیدا شوی دی. په ۱۸۵۴ کال کې یې د تلګراف تجهیزات اختراع کړل او د هغه کارځای یې په توکیو کې جوړ کړ. ځانګړی ساعت او ځانګړې نانځکه یې جوړ کړه، ډېر واړه او لوی شیان وو چې هیساشیګ جوړ کړل. د تلګراف د جوړولو هڅې او پراختیا په هغه وخت چې جاپان د پرمختګ هڅې کولې، یوه ستره لاسته راوړنه وه، هغه په ۱۸۷۲ کال کې توکیو ته ولاړ او د لومړي ځل لپاره یې د اوسنۍ توشیبا کمپنۍ بنسټ کېښود. اوسنۍ توشیبا کمپنۍ د توکیو ښار په ګینزای کې موقعیت لري.

تانکا په ۱۸۸۱ کال کې ومړ، شاګرد یې دای کیچي تاناکا د هغه لاره تعقیب کړه، هغه په دویم تاناکای مشهور و او په ۱۸۸۲ کال کې یې د تاناکا د انجنیرۍ او ساختماني کمپنۍ جوړه کړه. په ۱۹۰۴ کال کې یې د دې کمپنۍ نوم بدل کړ او شیبارا یې ورباندې کېښود.

د توشیبا کمپنۍ بل بنسټګر ایشي سوکی فوجیو کا دی، هغه د جاپان د برق د پلار په نامه مشهور دی. په ۱۸۵۷ کال کې پیدا شوی دی. هغه له برښنا سره ډېره مینه لرله او په همدې برخه کې یې زده کړې کړې وې. په ۱۸۸۴ کال کې یې امریکا ته یو سفر درلود او هلته یې له توماس ادیسون سره وکتل. بېرته جاپان ته راستون شو او په ۱۸۸۶ کال کې یې د پوهنتون له استادۍ لاس واخیست. څلور کاله وروسته یې د لامپونو د تولید کارځای پرانیست. هغه د برښنا انرژي جاپانایانو ته ور وپېژندله او دوی یې د برښنا عصر ته د ننه کړل. فوجیکا په ۱۸۹۰ کال کې لومړنی برښنایي ابتدایي ریل ګاډی جوړ کړ او بالاخره د جاپان د برښنا پلار په ۱۹۱۸ کال کې ومړ.

په ۱۸۷۵ کال کې په جاپان کې ځینو کمپنیو په کار پیل وکړ، دوی به د تلګراف وسیلې جوړولې، وروسته د تاناکا د انجنیرۍ کارځای هم په کار پیل وکړ، مؤسس یې تاناکا هیساشګ و او دغه شرکت په ۱۸۸۱ کال کې د خپلو برقي نانځکو او ځینو ساعتونو له امله ښه نوم لاره. په ۱۹۳۹ کال کې ځینو کمپنیو اتحاد وکړ او سره یو ځای شوې څو تر یوه نامه لاندې په لوړه پیمانه تولیدات ولري، دوی په هماغه محلي نامه د توکیو شېبورا دنکي د الکترونیکي وسایلو لوی مرکز جوړ کړ.

وروسته دا شرکت ډېر ژر د توشیبا په نامه مشهور شو، په ۱۹۷۸ کال کې یې رسمي نوم هم همدا شو، دا کمپنۍ ورځ تر بلې مخ ته روانه وه، په ډېرو نوښتونو یې لاس پورې کړ، په ۱۹۳۰ کال کې د کالیو مینځلو لومړنی ماشین همدې کمپنۍ جوړ کړ، یخچال یې هم جوړ کړی و، یو کال وروسته یې لومړنی برقي جارو جوړ کړ، په ۱۹۴۲ کال کې لومړنی رادار توشیبا کمپنۍ جوړ کړ، دوی همداسې د الکترونیکي وسایلو د جوړولو په برخه کې پرمختګ کاوه، دوی لومړنی ترانزستون ټلویزیون او وړ برقي اجق جوړ کړ. توشیبا له دې نه هم لوی کارونه وکړل، په ۱۹۶۳ کال کې یې د اتومي برق لپاره تر ټولو لوی سیستم چې ۱۲۵۰۰ کیلوواټه قدرت یې لاره، جوړ کړ. له دې څو کاله وروسته دغه شرکت ډېرې پراختیایي او کشفي پروژې پیل کړې او په ډېرو کې بریالی هم شو. توشیبا نه یوازې الکترونکي وسایل جوړول، بلکې په طبي برخه کې هم لومړنی ایم آر آی ماشین په ۱۹۸۲ کال کې توشیبا جوړ کړی دی، دوی همدارنګه د لمر د برښنا لپاره شمسي یا سولرونه جوړ کړل، په ۱۹۸۵ کال کې یې لپټاپ جوړ کړ چې د مشتریانو له تاوده هرکلي سره مخ شو او په ۱۹۹۵ کال کې یې د ډي وي ډي ډیسکونه جوړ کړل. دوی په پراخه کچه کار کاوه، تر ۲۰۰۵ کال پورې یې ایچ ډي وي ډي جوړه کړه، نن توشیبا د برقي وسایلو د جوړولو په برخه کې تر ال جي هیتاچي او توشیبا همدارنګه د اداري ماشینونو او حسابي وسایلو د تولید په برخه کې مخکښ شرکت دی. دوی د شتمنۍ او کارګرانو د موجودیت له اړخه هم د نړۍ د پراخو کمپنیو په قطار کې دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱,۶۵ |
| € | ۹۶,۳۰ |
| Rp. | ۵۰۲ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۸۰ |
| £ | ۱۱۱,۴۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د کار او دندې پر مهال تر فشار لاندې یاست، غواړې پرمختگ وکړې؟

ژباړه: صفي الله پادشاه

یوازې تاسو نه یاست چې په خپل کاري چاپېریال کې له سټرس سره مخ کېږی. ډېری کسان په ځینو حالاتو کې د سټرس او اضطراب احساس کوي. په دنده او کار کې سټرس درلودل، د هغو مهمو مسایلو له ډلې څخه دي چې هم کار کوونکي او هم د کار مشران تر خپلې اغېزې لاندې راولي او د روغتیا لپاره یې ډېر زیانمنوونکي عناصر لکه سټریا، د سر درد، اضطراب او اندېښنه له ځان سره لري.

موږ په دې مقاله کې هڅه کړې څو په گډه سره پر دې پوه شو چې څه ډول کولای شو په کار او دنده کې خپل سټرس مدیریت کړو او حللارې یې کومې دي؟

**لومړۍ حللاره: خپل کارځای ته مو له ټاکل شوي وخت څخه یو څه مخکې حاضر شئ، څو پر خپلو چارو باندې بشپړ تسلط ولرئ.**

خپل ساعت مو له ټاکلي وخت څخه لس تر پنځلسو دقیقو مخکې کوک کړئ؛ څو وکولای شی چې خپلې ورځنۍ چارې له ټاکلي وخت څخه مخکې پیل کړی. هڅه وکړئ چې له لسو تر پنځلسو دقیقو مخکې له کوره ووځئ. په دې صورت کې به د راحت او تازه کېدو لپاره په کافي توگه وخت پیدا کړی که پر لاره له کوم خنډ او ځنډ سره هم مخ شی، نو دفتر ته په رسېدو کې به دربانديې نه ناوخته کېږي. ښایي مراجعین او پېرودونکي مو تر تاسو وړاندې دفتر ته رسېدلي وي، له هغوی سره روغبړ او ښه رویه هم ستاسو پر بریا نېغ اغېز لري. که پر خپل وخت کارځای ته ورسېږی، نو تر ډېره به مو مراجعین او په ټوله کې هغه کسان چې له تاسو سره یې کار بند دی، له تاسو خوښ وي.

**دویمه حللاره: که مو کاري مېز او چاپېریال نا منظم وي، منظم او ترتیب یې کړئ.**

خپل کاري مېز او چاپېریال ته ځغلنده نظر وکړئ او وگورئ چې ایا ستاسو پر روحیه باندې اغېز کوي او که نه. که چېرې ستاسو د کار شاوخوا چاپېریال گډوډ او نا منظم وي، ښایي د ورځې تر پایه د سټرس او ذهني گډوډۍ احساس وکړی. د ورځې په ترڅ کې مو خپل ازاد وخت، د کاري مېز او شاوخوا چاپېریال د اضافي ورقو او کاغذونو منظم کولو ته ځانگړی کړئ او هر هغه څه چې اړتیا نه ورته لری، لرې یې وغورځوئ. خپل ځان عادت کړئ څو په اونۍ کې یو ځل خپل کاري مېز ترتیب او تنظیم کړئ؛ په دې توگه به مو نه یوازې کاري چاپېریال پاک او منظم وي، بلکې له ذهني سټریا او سټرس څخه به په امن کې وی.

**درېیمه حللاره: د کاري ورځې په پیل کې لومړی پر خپلو مهمو پروژو باندې کار وکړئ**

د خپلو هغو کړنو لېست چمتو کړئ چې باید په نږدې ورځو یا راتلونکې اونۍ کې یې تر سره کړی. په خپل لېست کې مو لومړیتوب هغو کړنو ته ورکړئ چې مهمې دي او باید ژر یې پای ته ورسوی او ور پسې هغو کړنو ته



وار ورکړئ چې ډېرې مهمې نه دي او تر سره کول یې اوسمهال اړین نه دي. په یوه وخت کې د څو کارونو د تر سره کولو لپاره د سټرس اخیستلو پر ځای، خپله انرژي د تر ټولو مهم پروژو پر تر سره کولو ولگوئ.

**څلورمه حللاره: په یوه وخت کې د بې شمېره پروژو د تر سره کولو مسوولیت مه اخلئ.**

د هغو پروژو لېست چمتو کړئ چې په دې وروستیو کې یې پر تر سره کولو بوخت یاست. له حده زیات کار مه کوئ. که مو له مخکې څخه ډېر مسوولیتونه پر غاړه اخیستي وي، په پوره جرئت او ادب سره څرگنده کړئ چې اوسمهال د نورو مسوولیتونو د منلو توان نه لری. کله مو چې پلان او پروگرام مشخص شو، وروسته بیا کولای شی چې نورې پروژې او مسوولیتونه هم پر غاړه واخلی. دا سمه ده چې هره دنده خپلې ستونزې او ننگونې لري. که مو دنده هر څومره اسانه او یا هم سخته وي، په دواړو حالتونو کې هڅه وکړئ چې مسلکي واوسی. په دنده کې بریا په مسلکیتوب، وړتیا، رښتینولۍ، کاري چاپېریال او د زده کړې په درجې پورې تړلې ده. که څوک خپله دنده په سمه توگه پرمخ نه شي بېولی، ښه ده چې پر خپلې ناتوانۍ اعتراف وکړي او په یوه داسې دنده پسې وگرځي چې له سویې سره یې سمه وي او په راتلونکې کې یې د پرمختگ لامل شي. کله چې له نیوکې سره مخ کېږی، په حقیقت کې خپل کمزوري ټکي پېژنی او لومړیتوبونو ته مو پام کېږي. که مو کله رییس او یا هم بل همکار درباندې نیوکه کوي، ژر عکس العمل مه ښکاره کوئ، ځکه په دې سره به ستونزه لا لویه شي. ښه ده چې ځان ته وخت ورکړئ، له یو بل سره خبرې وکړئ او په ارامۍ سره یو بل ته قناعت ورکړئ. هغه ځای چې تاسو پکې کار کوی، کېدای شي شخصي دفتر، روغتون، دولتي اداره او یا هم د پېر او پلور یوه مغازه وي؛ خو دا ټول د ساعت تېرۍ ځایونه نه دي. په دنده کې د مسلکي اخلاقو درلودل د بریا یوازینی رکن دی.

**پنځمه حللاره: د کاري ورځې په اوږدو کې څو ځله خپل ځان ته ارام او استراحت ورکړئ**

د خپلې کاري ورځې په اوږدو کې هغه وختونه مشخص کړئ چې وکولای شی له پنځو تر لسو دقیقو پورې پکې د ارام ساه واخلئ، د بدن سټریا رفع کړئ او اوبه یا قهوه پکې وڅښئ. له خپل ځانه ډېر کار مه اخلئ، پر ځای یې د ارام کېدو او ژورې ساه اخیستو لپاره وخت په پام کې ونیسئ، څو وکولای شي خپل سټرس کم کړی.

د بېلگې په توگه، که چېرې ستاسو کاري ساعت د سهار له اتو څخه د غرمې تر دوولسو بجو او د ماسپښین له یوې د ماذیگر تر پنځو بجو پورې وي، کولای شی د سهار په لسو او د ماسپښین په دریو بجو، له پنځو تر لسو دقیقو پورې استراحت وکړئ او یو گیلاس چای یا قهوه نوش جان کړئ.

**شپږمه حللاره: که چېرې تر فشار لاندې یاست، کار مو بل چاته وسپارئ**

اجازه ورکړئ څو همکاران مو پر دې پوه شي چې د تر سره کولو لپاره ډېر کارونه لری. په ډېر ارام او ادب سره له خپل یوه همکار څخه وغواړئ څو ستاسو د کار د یوې برخې تر سره کول پر غاړه واخلي، په دې سره به مو د کاري پلان سټرس را کم شي او په اسانۍ سره به وکولای شی چې مدیریت یې کړی.

د بېلگې په توگه، تاسو کولای شی هغوی ته ووایاست چې: زه د تر سره کولو لپاره ډېر کارونه لرم او فکر نه کوم چې ټول به یې بشپړ کړای شم. ایا کولای شی ټلېفوني اړیکو ته ځواب ورکړی؛ څو زه وکولای شم خپلې چارې بشپړې کړم؟

که چېرې ونه شی کولای چې په کارځای کې خپل سټرس له منځه یوسی او یا یې کم کړی، کچه به یې ورځ تر بلې لوړه شي او په دې سره به کاري چاپېریال درته په یوه سټرې کوونکي ځای بدل شي. نو غوره ده چې د کار په جریان کې د سټرس درلودلو پر مهال له خپلو ملگرو، همکارانو او یا د کورنۍ له غړو څخه د مرستې او لاسنیوي غوښتنه وکړئ او د هغوی په مرسته خپل کاري سټرس کم کړئ، ذهن مو ارامه کړئ او په پوره انرژۍ سره خپلو ورځنیو چارو ته ورسېږی.

- وړاندیزونه او حللارې وړاندې کړئ

که غواړی چې یو غوره کارکوونکی شی، نو د کار اړوند مسایلو په اړه مو بې تفاوته مه پاتې کېږئ. کېدای شي هغه څه چې تاسو یې پېشنهاد کوی سم نه وي، خو ښه خبره دا ده چې رییس او یا مدیر مو تاسو د یوه فعال کارکوونکي په توگه پېژني او پوهېږي چې د کار او ادارې گټې درته مهمې دي.

دا سمه ده چې د رییس او یا مدیر قانع کول ستونزمن کار دی، خو هڅه وکړئ چې باور یې لاسته راوړی څو مو د بریا په لار کې پراته خنډونه له منځه ولاړ شي. لکه څه ډول چې مخکې وویل شول، کېدای شي ستاسو حللاره د چا خوښه نه شي، خو هڅه به مو دا وي چې د ستونزو پر مهال ارو مرو د حل یوه لاره تاسو هم په گوته کړئ، ځکه که تاسو هېڅ هم ونه وایی، کېدای شي تاسو د یوه کمزوري او بې تفاوته کس په توگه وپېژندل شی. هغه وخت د مهمو مسایلو په اړه د پرېکړې پر مهال له تاسو سره مشوره نه کېږي. د ادارې مشران یوازې په هغو کارکوونکو پسې گرځي چې ځیرک وي او بس.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له څلور میلیونه او ۴۶ زره کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۸۷ میلیونه او ۴۸۶ زره او ۵۹۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او ۴۶ زره او ۴۸۵ کسان مړه شوي او له ۱۷۱ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۷۲۶زره او ۲۵۹ ته رسېدلي او ۶۲۲زره او ۸۲۵ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۰میلیونه او ۸۷۱ زره او ۵۰۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۹ میلیونه او ۶۹زره او درې مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۸۰۸ زره او ۳۸۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د پنځه میلیونه او ۷۸۳



زره او ۳۳۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

ترکیه، برېټانیا، ارجنټاین، کولمبیا او ایټالیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته مهال د امریکا تر ټولو زیات نفوس لرونکو دوو ایالتونو کې د کرونا پېښې مخ پر زیاتېدو دي. د چارواکو په وینا، د جولای تر ۱۱مې پورې په نیویارک کې د کرونا پېښې په اوو ورځو کې ۴۲ سلنه لوړې شوې او په فلوریدا کې د تېرې اونۍ په پرتله ۳۰ سلنه زیاتې شوې دي. ایالتي چارواکي وایي چې د پېښو شمېر له زیاتو ساري ښهو سره تړاو لري؛ لکه ډېلټا او واریانټ چې اوسمهال په ټوله نړۍ کې د پراختیا په حال کې دي.

د دوی په وینا، د نیویارک د ۲۰ میلیوني نفوس ۵۵ سلنه اوسمهال بشپړ واکسین شوي او د فلوریدا شاوخوا ۱۱ میلیونه اوسېدونکي ۵۸ سلنه بشپړ او نیمایي واکسین شوي دي. بلخوا په جنوبي کوریا کې هم د کرونا ویروس د نویو پېښو شمېر مخ پر زیاتېدو دی او په روسیه کې د دې ویروس له کبله د مړو شمېر یو ځل بیا لوړ شوی دی.

په جنوبي کوریا کې د کرونا پېښې داسې مهال په زیاتېدو دي چې چارواکو د سخت ټولنیز واټن مراعتولو اصول هم وضع کړي دي. د کوریا د ناروغیو د کنټرول ادارې ویلي چې په دغه هېواد کې د تېرې اونۍ په پرتله د کرونا د مثبتو پېښو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

**چاپخونه:** وایگل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ !
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ ۲۱مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۱۲مه | ۷۴۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | ۳۸ | ۴۴ | ۳۷ | ۳۹ | ۳۰ |
| ۲۱ | ۲۳ | ۲۹ | ۳۱ | ۲۶ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۷ | لمر ختل ۰۴:۵۰ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیگر ۰۴:۵۹ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:۵۱

## نړۍ



# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له څلور میلیونه او ۴۶ زره کسانو واوښت

۵

## راپورونه: د امریکا په فلوریدا کې د نړېدلې ودانۍ د مړو شمېر ۸۶ کسانو ته ورسېد

د راپورونو له مخې، د امریکا د متحده ایالتونو په فلوریدا ایالت کې د یوې ودانۍ د نړېدو په پېښه کې د مړو شمېر ۸٦ ته پورته شوی دی. چارواکي وایي چې ژغورونکې ډلې په خپلو تازه پلټنو کې د اوو نورو کسانو جسدونه هم موندي او په دې سره د پېښې د قربانیانو شمېر ۸٦ کسانو ته لوړ شوی دی. دوی همدا راز ټینگار کړی چې په سیمه کې د ژغورونکې ډلې کارونه او پلټنې رواني دي او تر اوسه هم له ۴۰ زیات کسان تري تم دي. د یادونې ده چې د امریکا د متحده ایالتونو په فلوریدا ایالت کې د دغې ۱۲ منزله ودانۍ یوه برخه دوه اونۍ وړاندې له مخکیني خبرداري پرته ونړېده چې تر اوسه یې علت نه دی په ډاګه شوی. په دې پېښه کې تر اوسه ۸٦ کسان مړه شوي، تر سلو ډېر ټپیان دي او لسگونه نور لا هم تر خاورو لاندې بند پاتې دي. سیمه ییزو چارواکو ویلي، خو ورځې مخکې یې د بند پاتې کسانو د ژغورنې عملیات ودرول، خو په خبره یې، دغه عملیات یې بېرته پیل کړي او هڅه کوي چې د پاتې کسانو د ژوند او مرگ درک هم معلوم کړي.

## راپورونه: په ترکیه کې د یوې ترافیکي پېښې له کبله ۳۸ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې



د راپورونو له مخې، د ترکیې په ختیځ کې د یوه بس د ټکر په پېښه کې ۳۸ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. د یاد هېواد چارواکي وایي چې په دې پېښه کې ۱۲ تنه وژل شوي او ۲٦ نور ټپیان شوي چې ټول یې د نورو هېوادونو کډوال وو. د ترکیې د حکومت ځایي چارواکو رویټرز اژانس ته ویلي، چې دغه پیښه له ایران سره په پوله د ترکیې د وان ایالت په مرادیه ولسوالۍ کې رامنځته شوې او موټر په یو کنده کې له لوېدلو وروسته اور اخیستی دی.
په پېښه کې د وژل شویو کډوالو هویت سمدستي نه دی په ډاگه شوی، خو یادو سرچینو ویلي چې د بس مالک نیول شوی او بندي شوی دی. ترکیه اروپا ته د کډوالو د تگ مهمه لاره ده. د ایران، افغانستان او پاکستان کډوال په پرله پسې توگه د ایران له پولې څخه ترکیې ته پلي اوړي او بیا له هغه ځایه استانبول او انقرې ته مخه کوي.
په ترکیه کې اوسمهال شاوخوا څلور میلیون کډوال ژوند کوي چې اکثریت یې د سوریې دي. د کډوالو ډېره برخه د کارکولو قانوني اجازه نه لري. زیات شمېر دغو کډوالو غیر رسمي کارونه کول، خو د کرونا ویروس له خپرېدو وروسته ډېر کاروبارونه وتړل شول او ډېر خلک وزگار شوي دي.


## قانون‌گذاران: حکومت از قانون اساسی چون ابزار کار می‌گیرد



شماری از حقوق‌دانان و قانون‌گذاران حکومت را به بی پروایی در برابر قانون اساسی متهم می‌سازند و می‌گویند که در بیشتر موارد حکومت از قانون هم‌چون ابزار کار می‌گیرد و تنها برای رسیدن به هدف‌هایش آن را تطبیق می‌کند.
این قانون‌گذاران و حقوق‌دانان با برجسته ساختن ادامۀ کار سرپرستان در کابینه، شورای عالی ستره محکمه، کمیسیون نظارت بر تطبیق قانون اساسی و نهادهای دیگر می‌گویند که ادامه کار سرپرستان مشروعیت حکومت را در سطح ملی و جهانی زیر پرسش برده‌است.با آن‌که حکومت همواره بر تداوم کار قانونمند نهادهای حکومتی تأکید ورزیده‌است، شماری از قانون‌گذاران می‌گویند که رییس‌جمهور تنها در شعار به قانون پایبند است.کریم اتل، عضو ولسی جرگه در این باره گفت: «اگر حکومت به‌ویژه رئیس‌جمهور قانون را احترام نکنند، من باور دارم که مردم از این بیشتر از حکومت خسته می‌شوند.»نذیراحمدحنفی،رئیس کمیسیون‌تقنین ولسی جرگه نیز افزود: «عدم معرفی کردن وزرا و رأی اعتماد گرفتن آن‌ها، کار خلاف قانون است.»
قانون‌گذاران می‌گویند که بربنیاد قانون حکومت نباید بیش از دو ماه فردی را در وزارت خانه‌ها چون سرپرست نگهدارد؛ در حالی‌که در حدود ده تن از اعضای کابینه، لوی خارنوال، شماری از اعضای شورای عالی ستره محکمه و بعضی از نهادهای دیگر چندین ماه می‌شوند چون سرپرست کار می‌کنند.
سبحان مصباح، حقوق‌دان دراین باره اظهار داشت: «حکومت باید سرپرستان را به ولسی جرگه غرض گرفتن رأی اعتماد روان بکند تا این که قوه اجراییه ما مشروعیت بدست آورد.»


## ژوند

## ذهني روغتیا



ډېری خلک په دې نه پوهېږي چې د بدني او ذهني روغتیا تر منځ توپیر شته او که څنگه، بلکې دغه دواړه یو گڼي، خو داسې نه ده او دواړه حالتونه سره واضح توپیر لري. ډېری خلک ذهني ناروغۍ تر ډېره جدي نه بولي او همدا سبب دی چې له دغه ډول ناروغیو څخه ناخبره یو، نو د دې لپاره چې ذهني روغتیا مو سمه او ښه وي، نو لومړنی شرط دا دی چې باید په بدني توگه ښه واوسو. کله چې یو څوک خپل یا د بل ذهني حالت ته اهمیت نه ورکوي یا یې ورکول نه غواړي، نو ډېرې ناوړه پایلې به ولري. د بېلگې په توگه، تاسې هیڅکله د سرطان ناروغ ته نه وایئ چې دا ټول ستاسې د دماغو لوبه ده، ډېر فکر مه کوئ، داسې هیڅ هم نشته. کله چې تاسې دغه جمله هغه ناروغ ته ووایئ چې د سرطان ناروغي لري، نو ډېره گټوره تمامېږي او موږ باید له ذهني ناروغانو سره هم همدا ډول چلند وکړو.

## وینډوز ۱۱ به د وینډوز ۱۰ کاروونکو ته وړیا وي



مایکروسافټ کمپنۍ د جون په ۲۴مه د خپل عامل سیستم نوې بڼه وینډوز۱۱ معرفي کړ. وینډوز۱۱ به د ۲۰۲۱ کال په پای کې کاروونکو ته وړاندې شي او د وینډوز۱۰ کاروونکي کولی شي دغه نوې او پرمختللې بڼه په وړیا ډول ښکته او انسټال کړي. وینډوز۱۱ د پخوانۍ بڼې په پرتله ډېر غښتلی دی او د وینډوز۱۰ په پرتله غښتلي پروسېسر او ډېر رم ته اړتیا لري. تر دې هم مهم د TPM ۲,۰ لرل دي او کاروونکي هغو لپ‌ټاپونو او ډسکټاپونو کې چې TPM ۲,۰ نه لري وینډوز۱۱ نشي انسټالولی. کاروونکي به همدا راز د وینډوز۱۱ هوم اېډېشن ښکته کولو لپاره انټرنېټ او مایکروسافټ بربېښنالیک ته اړتیا ولري. یو گېگا هرټز پروسېسر ته لږ تر لږه ۴ گېگابایټ رم او ٦۴ گېگابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرل هم اړین دي. په وینډوز۱۱ کې به یوزر انټرفېس، سټارټ مېنیو او نور ډېر څیزونه له وینډوز۱۰ سره توپیر ولري او تر ډېره وینډوز۱۰ اېکس ته ورته دي. وینډوز۱۱ کې هڅه شوې چې د دغه عامل سیستم کارول نور هم اسانه او ساده کړل شي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank